


# په هالند کې د سهيلا اصغري وردک حسرت نظيمي د ادبي او فرهنګي هاندو و هڅو په وياړ نمانځ غونډه

دغه غونډه پر (۲۰۱۴) زيږديز کال د فبروري مياشتې پر يو ويشتمه (۲۱) نيټه د هالند د (الکمار) په ښار کې جوړه شوه.

په دې غونډه کې پر کوربه هيواد سربيره له بيلابيلو اروپايي هيوادونو څخه د پښتو او دري- پارسي ادب و فرهنګ پيژندل ښويو او نامتو څيرو، ليکوالو، اديبانو او شاعرانو، او ګڼو مينه والو هم برخه اخيستې وه.

- غونډه د پاک قرآن د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه.

وریپسې زموږ د هیواد خوږ ژبې ویاندې، اغلې فوزیه میترا او زموږ د هیواد تکړه ژورنالیست بسم الله اکبري د غونډې په اړه په پښتو او دري ژبې معلومات ورکړل.



- ښاغلي محمد قاسم عثماني د لوی ننګرهار د ټولنې مشر د خپلو خبرو په ترځ کې ټولو ګډون کوونکو ته ښه راغلاست ووایه، او له دوی څخه چې په دغه غونډه کې یې برخه اخیستې وه د زړه له کومې مننه وکړه.





- په دغه غونډه کې مخکښ لیکوال او شاعر ښاغلي هدایت الله وطنیار د سهیلا اصغري د ادبي او فرهنګي شخصیت په هکله خپله وینا واوروله اوبیا یې خپل یو شعرچې د دې په اړه لیکل شوی و هم ولوست.



- ورپسې زموږ د هیواد پیژندل شوی لیکوال، پیاوړې داستان لیکونکې او تکړه ژورنالیست ښاغلي ډاکټر ببرک ارغند ته بلنه ورکړل شوه چې خپله وینا د غونډې ګډون والو ته واوروي.

ښاغلي ډاکټر ببرک ارغند په خپله یوه لنډه ادبي کیسه کې، د سهیلا اصغري ادبي او فرهنګي شخصیت داسې انځور کړئ و چې د اوریدونکو له خوا یې په ډیره مینه او د چک چکو سره یو ځای توود هر کلی وشو.



- په دې پرتمینه غونډه کې ښاغلي انجنیرعبدالقادر مسعود هم ګډون درلود.

ده په خپله وینا کې د سهیلا اصغري د زده کړې، ادبي او فرهنګي هاندو هڅو په اړه په بشپړ ډول اوریدونکو ته معلومات وړاندې کړ، چې د اوریدونکو له خوا یې ډیر په مینه هرکلی وشو.



- زموږ د هیواد د ملي، حماسي او رزمي ولولوخاوند، هیواد پال او اولس پال شاعر ښاغلي عبدالوهاب سرتیر، چې په دغه غونډه کې هم حضور درلود په خپلو خوندور او زړه وړونکو شعرونو یې دغې غونډې ته لا ښکلا ورکړه.


بزرگداشت ازکارکردهای ادبی وفرهنگی خانم سهیلا



- ښاغلی واحد نظري چې زموږ دهیواد یو نامتو لیکوال او مخکښ طنز لیکوونکې دی په خپله لیکنه کې یې د سهیلا اصغري د ادبي او فرهنګي شخصیت په اړه رڼا واچوله او په پای کې یې خپل یو ښکلی او خوندور طنز اوریدونکو ته واوروه، چې د ګډون والو د تاوده هرکلي سره مخامخ شو.



- ښاغلی عزیز سرشار چې زموږ دهیواد یو درونډ، هڅاند او فعال ادبي او فرهنګي شخصیت او تکړه شاعر دی او په المان کي د کونړ د فرهنګي ټولنې په استازیتوب خپله وینا او یو شعر یې اوریدونکو ته واوروه. ده دا خبره هم څرګنده کړه چې زموږ ټولنې یو

ستاینلیک اغلې سهیلا اصغري ته ترتیب کړئ و خو له بده مرغه د تخنیکي ستونزو له مخې دا ستاینلیک ما له ځان سره دغه غونډې ته نه دی راوړئ او ژمنه یې وکړه چې وروسته به دا ستاینلیک اغلې سهیلا اصغري ته په ډیره مینه سره ډالئ کړي.





- ښاغلی مدد صاحب چې یو نامتو، وتلی ادبي ، فرهنګي شخصیت او د بیدل پژندنې د کړۍ یو تکړه غړۍ دی، هم په دغه غونډه کې ګډون درلود، چې  په خپلو ښکلو او په زړه پورې شعرونو یې دا غونډه نوره هم رنګینه کړه.





- ښاغلی انجنير مطيع الله روفي په آلمان کې د کونړ د فرهنګي ټولنې په استازيتوب خپله وينا اوښکلي او خوندورشعرونه ګدون والو ته واورول چې غونډې ته يې نوره هم ښکلا ورکړه.





- اغلې حمیرا نګهت دستګیر زاده چې زموږ د هیواد یوه پیژندل شوې او مخکښه شاعره ده. دې هم په دري- پارسي ژبه خپل شعرونه او یو شعر یې په پښتو ژبه په دغه غونډه کې د غونډې برخه والو ته واورول.



- ښاغلي بشیر مومن چې یو تکړه لیکوال او خوږ ژبې شاعر دی، خپله وینا اوښکلي شعرونه په دغه غونډه کې ګډون والو ته وړاندې کړل.



- ښاغلی عبدالوهاب فایز، چې یو پېژندل شوی ادبي ، فرهنګي شخصیت او د بیدل پژندنې د کړۍ یو تکړه غړی دی،  خپل خوندور شعرونه اوریدونکو ته واورول او دا غونډه یې نوره هم پسې رنګینه کړه.



- په دغه غونډه کې امين باوري چې د پښتو ادب او فرهنګ يو درونډ او فعال شخصيت او تکړه شاعر او په بلجيم کې د افغاني ادبي او کلتوري ټولنې مشردی هم ګدون درلود چې په خپله وينا يې دا غونډه نوره هم لا درنه کړه او د خپلې ټولنې مرستيال ښاغلي انجنير حضرت سادات ته يې بلنه ورکړه چې د ستيژ سر ته راشي. دوی په ګډه سره د خپلې ټولنې په استازيتوب يو ستاينليک او يو شمير کتابونه اغلې سهيلا اصغري ته ډالۍ کړل.






- په هالند کې د افغاني ټولنو د اتحادیو مشر ښاغلي ولي شاپور هم خپل پیغام ګډون والو ته واوروه. او د خپلې ټولنې د مشرتابه غړو ته یې بلنه ورکړه چې د ستیژ سر ته راشي.

دوی هم په ګډه سره د خپلې ټولنې په استازیتوب اغلې سهیلا اصغري وردک ته د تکړه ویاندې او غوره خبریالې په توګه یو باور لیک ډالۍ کړ.


اوهمداسې یې یو ستاینلیک محمد قاسم عثماني ته او د ښاغلي انجنیرعبدالقادر مسعود ادبي او فرهنګي هڅې یې وستایلې او ده ته یې هم یو ستاینلیک ورکړ.







- په آلمان کې د کونړ د ځوانانو د فرهنګي ټولنې په استازيتوب ښاغلی انجنير فريد ساپي چې يو تکړه ادبي او فرهنګي شخصيت دی، خپل پيغام د غونډې ګډون والو ته  واوروو.



- ښاغلي الهام الدين قيام چې زموږ د هيواد يو تکړه ادبي څېره او خوږ ژبی شاعر دی، په دغه غونډه کې دخپلو شعرونو په ويلو سره دا غونډه نوره هم رنګينه کړله.



- ښاغلی حسام الدين حسام چې زموږ د ادب او فرهنګ يوپيژندل شوی شخصيت او تکړه شاعر دی د دغې غونډې ګډونوالو ته خپل ښکلي او خوندور شعرونه واورول چې له اوريدونکو له خوا په ډير تاوده احساساتو د ده د شعرونه هرکلی وشو.



- په دې غونډه کې ښاغلي س. سيلنی چې زموږ د ادب او فرهنګ يو تکړه شخصيت او شاعر دی هم ګډون درلود، چې خپل ښکلي او په زړه پوري شعرونه يې د غونډې برخه والو ته واورول.



- ښاغلی جلال عمرخیل چې د ځوانو شاعرانو په منځ کې یو پیژندل شوی، مخکښ او تکړه ځوان شاعر دی، خپل خوندور شعرونه یې اوریدونکو ته واورول چې د ګډونوالو له خوا د ډیر تاوده هرکلي سره مخامخ شو.



- په دغه غونډه کې یو شمیر نورو تکړه او هڅاندو ځوانو شاعرانو لکه نذیر احمد نذیر او جابر منظر هم خپل خواږه او ښکلي شعرونه اوریدونکو ته واورول.

- ښاغلي ماما چې یو اولسي شاعر دی هم په غونډه کې خپل شعر واوروه.

- د یادونې وړ ګڼم چې په دغه غونډه کې یو شمیر پیژندل شویو او تکړه شاعرانو لکه :

ښاغلي نورالدین همسنګر، ښاغلي ځواکمن، ښاغلي خپلواک وطنیار، ښاغلي فضل الربي رستم، ښاغلي صدیق الله ملکزي، ښاغلي نزار او همداسې یو شمیر نورو ګډون کړئ وو چې د غونډې د وخت د کموالي له کبله دوی و نه شو کولای چې خپل شعرونه ګډونوالو ته واوروي.

- اغلې فوزیه میترا د ښاغلي پوهاند استادمجاور احمدزیار او د ښاغلي استاد لطیف ناظمي پیغامونه چې د سهیلا اصغري د ادبي او فرهنګي شخصیت په اړه دغې غونډې ته رالیژل شوي وو هم یادونه وکړه.

- ښاغلي بسم الله اکبري اغلې سهیلا اصغري ته بلنه ورکړه چې خپله وینا اوریدونکو ته واوروي.



- اغلې سهيلا اصغري د تاوده هرکلي سره د ستيژ سر ته راغله او خپله وينا يې پيل کړه.
دې له ټولو مينه والو څخه چې په دغه غونډه کې يې ګډون کړئ وو، او له ټولو دوستانو څخه چې د دغې درنې او پرتمينې غونډې په جوړولو کې يې فعاله برخه درلوده د زړه له کومې مننه او درناوی وکړ.





- د غونډې دویمه برخه د ماښام ډوډی او په زړه پورې هنري کنسرت ته ځانګړې شوې وه، چې زموږ د هیواد پیژندل شویو او تکړه هنرمندانو ښاغلي محبوب الله محبوب، ښاغلي کریم لمر، چې د طبلې په برخه کې ښاغلي شعیب اسحق زي او ښاغلي شیر شاه

سلطاني ورسره فعاله برخه درلوده د ټنګ ټکور په برخه کې ښکلې او په زړه پورې مستې سندرې واورولې چې په تودو ولولو او چک چکو سره بدرګه شول .





- د یادونې وړ ګڼم د دغې غونډې په غوړیدلو او رنګینولو کې د آغلې فوزیه میترا د یوې خوږ ژبې او تکړه ویاندې او د ښاغلي بسم الله اکبري د یو تکړه ژورنالیست په توګه د غونډې د مختته بیولو په برخه کې د دوی دواړو هلې ځلې او ونډه د خورا قدر او ستاینې وړ دي.





- د دغې غونډې په سمبالولو کې  ښاغلي کريم لمر هم کارنده برخه درلوده.



- او همداسې د يادونې وړ ګڼم د ښاغلي محمدکريم مومند فعاله ونډه په دغه غونډه کې او د  ښاغلي عتيق فقيري او پرديس فقيري هلې ځلې د فلم جوړولو او عکس اخيستلو په برخه کې د قدر اودرنښت وړ دي.

- په پای کې  پيژندل شوي ټولنيز، ادبي او فرهنګي شخصيت ښاغلي زلمي جهش د خپلو خبرو وروسته د ګلونو يوه ښکلې ګېډۍ اغلې سهيلا اصغري ته ډالۍ کړه.




- همداسې  ټولو درنو اغلو او ښاغلو ليکوالو، اديبانو او شاعرانو ته د ګلانو ګېډۍ ډالۍ شوې او د شپې پر يوه بجه دا درنه او پرتمينه غونډه پای ته ورسيده.





# په ډېر درنښت او ادبي مينه :

# انجنير عبدالقادرمسعود